# د صِدّیق د ایمان شان

12-January-2023



هفته وراه د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کښې کیدونکے

د سُنَّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

په 12 جنورئ کال 2023ء د پاکستان په هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# د صِدِّیق د ایمان شان

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ---د صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په شان شئ!
- ---د صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ لنډه پیژندګلو
- ---کله چې د صِدِّیقِ ایمان په تَله کښې اوتللے شو---!!
- ---د صِدِّیق د ایمان د کمال یو راز

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ (اسلامِک ریسرچ سنٹر)

(شعبه بیاناتِ دعوتِ اسلامي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰه    وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللّٰه
اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللّٰه    وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

د اسلام وړومبے خلیفه حضرت ابو بکر صدّیق رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي په رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې دُرُود لوستل په اوبو باندې د اور مړ کولو نه هم ډیر زر د ګناهونو ختمولو والا دے او په هغوئي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې سلام لیږل د غلام آزادولو نه افضل دي-[1]

اپنے خطاواروں کو اپنے ہی دامن میں لو
کرکے تُمہارے گناہ مانگیں تمہاری پناہ

کون کرے یہ بَھلا تم پہ کروروں درود
تم کہو دامن میں آ تم پہ کروروں درود[2]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب    صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بیان اوریدلو نیتونه

په حدیثِ پاک کښې دي: اَلنِّیَّةُ الْحَسَنَةُ تُدْخِلُ صَاحِبَهَا الْجَنَّةَ ښه نیت بنده جنت ته بوځي-[3]

---

[1]... تاریخ بغداد، جلد:7، صفحہ: 172-
[2]... حدائقِ بخشش، صفحہ:271-
[3]... مسند فِردَوس، جلد:4، صفحہ:305، حدیث:6895-

اے عاشقانِ رَسُول! د ښه ښه نیتونو سره د عمل ثواب زیاتیږي- د بیان اوریدلو نه مخکښې ښه ښه نِیَّتونه اوکړئ: مَثَلاً نِیَّت اوکړئ چې ❀ د الله پاک د رضا د پاره به بیان اورم ❀ د عِلمِ دِین د تعظیم [یعني ادب] په نِیَّت به بااَدبه کښینم ❀ ښه په توجو سره به بیان اورم ❀ څه چې اورم، د هغې د یادولو، ځپله د عمل کولو او نورو ته د رسولو به پوره کوشش کووم-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په شان شئ!

په 3 سیپاره، سورۂ آلِ عمران، آیت: 79 کښې الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| كُوْنُوْا رَبّٰنِیّٖنَ (پاره:3، آل عمران:79) | ترجَمهٔ کنزُ الایمان: د الله والا شئ! |

د حضرت ابو عبّاس عطاء رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خِدمت کښې پوښتنه اوکړے شوه په دې آیت مبارک کښې الله پاک مونږ ته د چا په شان د کیدلو حکم کړے دے؟ اوئې فرمائیل: په دې آیت کښې حکم راکړے کیږي چې تاسو د صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په شان جوړ شئ! (ځکه چې ښکه رَبَّاني یعني د الله والا حضرت صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دے، د انبیائے کرامو عَلَیْہِمُ السَّلَام نه پس داسې الله والا بَل هیڅوک نشته)، حضرت صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ داسې رَبَّاني (الله والا) دے، د هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په الله پاک باندې، په تَوحِید باندې داسې کامِل ایمان دے چې د زماني څه حادثه تر دې پورې چې پوره زمکه د یو ځائے نه بَل ځائے ته شي، بیا به هم د هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په زړه باندې هیڅ اثر نه کیږي، د هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په

زړه کښې به ايمان په پوره آن، بان، شان سره قائِم وي- (1)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د حضرت عطاء رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې وضاحت مطابق په قرآنِ کريم کښې مونږ مسلمانانو ته د وړومبي خليفه، خليفة الرسول، عاشقِ اکبَر، صِدِّيقِ اکبر، مصطفٰے جانِ رحمت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د وزير، يارِ غار او يارِ مزار حضرت ابوبکر صِدِّيق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په شان د کيدلو حکم شوے دے-

دغه شان په يو بَل ځائے کښې الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَّ اتَّبِعْ سَبِيْلَ مَنْ اَنَابَ اِلَيَّ ۚ (پاره:21، سورۂ لقمان:15) | ترجَمۂ کنزُ الایمان: او زما په لور د رجوع کوونکي کَس په لاره ځئ- |

سُلطَانُ المُفَسِّرِين، حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا فرمائي: په دې آيت مبارک مَنْ اَنَابَ اِلَيَّ يعني د الله پاک په لور د رجوع کوونکي نه مراد حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ دے- (2)

الله پاک دې زمونږه د يارِ غارِ رسول حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په نقشِ سيرت باندې د تللو، د هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د پاک کردار، نوراني اخلاقو او د ځانګړو عادتونو فيضان نصيب کړي-

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

بھٹک سکتے نہیں ہم اپنی منزل ٹھوکروں میں ہے
نبی کا ہے کرم اور رہنما صِدِّیقِ اکبر ہیں
گناہوں کے مرض نے نیم جاں ہے کردیا مجھ کو
طبیب اب بس مرے تو آپ یا صِدِّیقِ اکبر ہیں

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

[1]... کتاب اللمع، صفحہ:168۔ خلاصۃً
[2]... تفسیرِ بغوی، پارہ:21، سورۂ لقمان، زیرِ آیت:15، جلد:3، صفحہ:509۔

# ايمان وړومبۍ نيكي ده

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! ايمان يعني د كلمه طيبه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰه لوستلو سره د اسلام په كړښه كښې راتلل د ټولو نه وړومبۍ نيكي ده- د آخِرت د فضيلتونو دروازه په دې نيكۍ (يعني ايمان) سره پرانستے كيږي- چا چې كلمه اووئيله، ايمان ئې راوړو، هغه د آخِرت په لحاظ سره د ډير فضيلت والا دے- بيا چې دا ايمان څومره مضبوطيږي، د ايمان كيفيتونه چې څومره زياتيږي، د بنده په فضيلتونو كښې زياتوالے كيږي-

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! د صحابهٔ كرامو عَلَيهِمُ الرِّضوَان نه واخله تر نن ورځ پورې د ټولو عاشقانِ رسول شريكه عقيده ده چې د رسول صلاح كار، يارِ غار او يارِ مزار، عاشِقِ اكبر، صِدِّيقِ اكبر، حضرت ابو بكر صِدِّيق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د انبيائے كرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام نه پس په ټولو انسانانو كښې افضل دے- (1) د هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د افضل كيدو ډيرې زياتې وجې دي، په هغې كښې يوه وجه دا هم ده چې حضرت ابوبكر صِدِّيق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په اُمَّت كښې د ټولو نه اَفضَل ايمان والا دے-

د حضرت ابو بكر صِدِّيق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د ايمان څه شان دے؟ هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د ايمان اوچته درجه څنګه اوموندله؟ مونږه ګنهګاران د حضرت ابو بكر صِدِّيق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د فيضان نه خپل ايمان څنګه مضبوطولے شو؟ په دې تعلق سره به نن مونږه د يو څو مدني ګلونو د اوريدلو سعادت حاصلوو- اللّٰه پاک دې **د ابو بكر صِدِّيق** رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ **د ايمان** په بركت زمونږه كامِل ايمان نصيب كړي، د ايمان په تقاضو باندې د عمل كولو توفيق دې نصيب كړي-

اٰمِيْن بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

عمر سے بھی وہ افضل ہیں عثماں سے بھی ہیں اعلیٰ
یقیناً پیشوائے مُرتَضیٰ صِدّیقِ اکبر ہیں (2)

1... فتاوی رضویہ، ج:28، صفحہ:478۔
2... وسائلِ بخشش، صفحہ:566۔

## (1): د صِدّيق ايمان د آسماني وحي په شان دے

حضرت ربيعه بن کعب رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: **د حضرت ابو بکر صديق** رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ **اسلام د آسماني وحي په شان وو،** هغوئي د تجارت د پاره شام ملک ته تلي وو، هلته هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ يو خوب اوليدلو، کوم ئې چې **بحيرا** نومې راهب ته اووئيلو- هغه [بحيرا] د هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه پوښتنه اوکړه: ته د کوم ځائے نه راغلے ئې؟ اوئې فرمائيل: د مکې نه- هغه بيا پوښتنه اوکړه: د کومې قبيلې سره تعلق لرې؟ اوئې فرمائيل: د قريش سره- پوښته ئې اوکړه: څه [کار] کوې؟ اوئې فرمائيل: سوداګر يم- هغه راهب اووئيل: که چرې ستا خوب رښتونے دے نو ستا قوم ته به يو پيغمبر راليږلے شي، د هغه په ژوند کښې به ته د هغه وزير ئې او د وِصال نه پس به ئې جانشين- حضرت ابو بکر صديق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ دا واقعه پټه اوساتله، چاته ئې اونه وئيله- بيا چې کله نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نبوت اعلان اوفرمائيلو نو حضرت ابو بکر صديق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ په بارګاهِ رسالت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې عرض اوکړو: زه ګواهي ورکووم چې د الله پاک نه سيوا بَل هيڅ معبود نشته او زه د دې خبرې ګواهي ورکووم چې هغوئي [صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم] د الله پاک رښتونے رسول دے- هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي: په هغه ورځ زما په اسلام راوړلو باندې په مکه مکرمه کښې د سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه زيات خوشحاله څوک نه وو-[1]

امیر المؤمنیں ہیں آپ، امامُ المسلمیں ہیں آپ | نبی نے جنّتی جن کو کہا صِدّیق اکبر ہیں

## (2): وَنې د صِدّيقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ سره خبرې اوکړې

حضرت ابو بکر صديق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پخپله ارشاد فرمائي: د جاهليت په ورځو کښې يوه ورځ زه د يوې وَنې سورې ته ناست ووم- ناڅاپه د هغې وَنې يو ښاخ زما طرف ته

1... الرياض النضرة، القسم الثانی، باب الاول، فصل الرابع، جز:1، صفحہ:72-

رانښکته شو تر دې پورې چې هغه دومره رانژدې شو چې زما د سر سره اولګیدو- ما هغه [ښاخ] ته کتل او په زړه کښې مې سوچ کولو چې دا زما سره څه کیږي؟ د هغه وَنې نه دا آواز زما تر غوږو شو چې **د الله پاک یو رښتونے نبي به په فلانکي وخت کښې ظاهریږي تا له پکار دي چې (په هغه باندې ایمان راوړې او د هغه دوست جوړ شې او) د ټولو نه زیات سعادت مند جوړ شې-** ما هغه [ښاخ] ته اووئیل: ماته په واضحه طور اووایه چې هغه نبي څوک دے او د هغه نوم څه دے؟ هغه اووئیل: مُحَمَّد بن عبد الله بن عبد المطلب بن هاشم- ما اووئیل: هغه زما دوست او زما حبیب دے- ما د هغه وَنې نه وعده واخِستله چې کوم وخت هغه بعثت اوفرمائي نو په ما به زیرے کوې- کله چې د الله پاک محبوب، دانائے غُیوب صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بعثت اوفرمائیلو نو د هغه وَنې نه آواز راغلے: اے د ابو قحافه ځویه! هغه نبي بعثت فرمائیلے دے اوس کوشش اوکړه او قسم دے د موسیٰ په رَبّ! په اسلام کښې به څوک هم په تا باندې وړاندې والے اونکړي- کله چې سحر شو نو زه د رسولُ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوا له لاړم- رسولُ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې زه اولیدم نو اوئې فرمائیل: اے ابو بکرا! زه تا د الله پاک او د هغه د رسول طرف ته رابلم- ما اووئیل: زه ګواهي ورکووم چې تاسو صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د الله پاک رسول ئې، الله پاک تاسو ته حق درکړو او روښانه ډیوه ئې راولیږلې، ما په هغوئې صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې ایمان راوړو-[1]

بیاں ہو کس زباں سے مرتبہ صِدّیقِ اکبر کا
ہے یارِ غار محبوبِ خدا صِدّیقِ اکبر کا

رُسُل اور انبیا کے بعد جو افضل ہو عالم سے
یہ عالم میں ہے کس کا مرتبہ صِدّیقِ اکبر کا

نبی کا اور خدا کا مدح گو صِدّیقِ اکبر ہے
نبی صدیق اکبر کا خدا صِدّیقِ اکبر کا[2]

---

1… تاریخ مدینہ دمشق، جلد:30، صفحہ:30-

2… ذوقِ نعت، صفحہ:76 ملتقطًا-

## د صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ لنډه پيژندګلو

❁ د جانشينِ مصطفٰے، د مسلمانانو د وړومبي خليفه، اَمِيرُ الْمُؤمِنِين حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ پاک نوم: عبد الله، کنيت: ابو بکر او لقب: صديق او عتيق دے۔ [1] ❁ د حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ تعلق د قريش قبيلې سره دے ❁ په اوومه پيړۍ کښې د هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ شجرهٔ نسب د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خاندان د شجرې سره ميلاؤيږي ❁ په آزادو نارينوؤ کښې حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د ټولو نه وړومبے ايمان راوړلو ❁ حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په ټولو غزواتو کښې شريک شولو ❁ د صلحې او جنګ ټولو فيصلو کښې د خپل حبيب، د زړونو د طبيب صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وزير جوړ شو او د ژوند په هر ډګر ئې د حضور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ملګرتيا اوکړله او د جان نثارۍ حق ئې ادا کړلو ❁ 2 کاله، 7 مياشتې ئې خلافت اوکړو۔ [2] ❁ حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په 22 جمادي الاخرٰی، 13 هجرۍ وفات شو۔ [3] ❁ هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په شين شين ګنبد کښې د خپل يارِ غار، د رسولانو د تاجدار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خوا مبارک کښې آرام فرمائي۔

جو يارِ غارِ محبوبِ خدا صِدِّيقِ اکبر ہیں
وُہی يارِ مزارِ مصطفٰے صِدِّيقِ اکبر ہیں

سبھی اَصحاب سے بڑھ کر مقرَّب ذات ہے انکی
رفيقِ سرورِ اَرض و سما صِدِّيقِ اکبر ہیں [4]

## صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د هميشه نه مسلمان دے

اے عاشقانِ رَسُول! د حضرت ابو بکر صِدِّيق رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د ايمان شان څه دے چې هغوئي د

---

1... معجم کبير، جلد:1، صفحه:20، حديث:9۔
2... تاريخ الخلفاء، صفحه:54 ۔
3... سنن کبرٰی للبيهقي، کتاب الجنائز، باب غسل المراة زوجها، جلد:4، صفحه:106، رقم:6663۔
4... وسائلِ بخشش، صفحه:565-566 ملتقطاً۔

ماشومتوب نه مؤمن وو- اعلیٰ حضرت، امامِ اهلسُنَّت رَحمَۃُاللہِ عَلَیہ فرمائي: 2 صحابهٔ کرام (1): يو حضرت ابو بکر صديق رَضِیَ اللہُ عَنہُ - (2): دويم مولائے کائنات مولا علي رَضِیَ اللہُ عَنہُ ، دې دوانړو په عالَمِ اَرواح کښې چې کله ټولو روحونو د الله پاک د رَبّ کيدو اِقرار کړے وو، د هغه وخت نه واخله تر په دُنيا کښې د پيدا کيدو پورې، په دُنيا کښې د پيدا کيدو نه واخله تر د څلمي توب پورې، د څلمي توب نه واخله تر د نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نبوت د اعلان پورې، د نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نبوت د اعلان نه تر وفات پورې، د وفات نه د هميشه هميشه پورې مسلمان وو او مسلمان دے، په يو حال کښې د يوې لحظې د پاره هم د دې دوانړو په پاکو، طَيِّبو لمنو نه کله د کُفر او شرک ناپاکي اولګيده، نه به تر قيامته پورې اولګي-[1]

بہتری جس پہ کرے فخر وہ بہتر صِدّیق
سارے اَصحابِ نبی تارے ہیں اُمّت کے لئے

سروری جس پہ کرے ناز وہ سرور صِدّیق
ان ستاروں میں بنے مِہرِ مُنَوَّر صِدّیق[2]

## په ماشومتوب شريف کښې د تَوحِيد اِعلان

د مسلمانانو د وړومبي خليفه، اَمِيرُ المُؤمِنِين حضرت ابو بکر صِدِّيق رَضِیَ اللہُ عَنہُ عمر مبارک 4 کاله وو، نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم لا اوس د نبوت اعلان نه وو کړے، په دُنيا کښې کُفر او شِرک عام وو، د حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنہُ والِد حضرت ابو قحافه رَضِیَ اللہُ عَنہُ څوک چې هغه وخت د کُفر په ډنډه کښې انختے وو، يوه ورځ هغه حضرت ابو بکر صِدِّيق رَضِیَ اللہُ عَنہُ خپلې عبادت خانې ته بوتللو او د کاڼو نه د جوړ کړے شوؤ

1... فتاویٰ رضویہ، جلد:28، صفحہ:458 خلاصۃً-
2... دیوانِ سالک، صفحہ:69

دروغژنو خُدایانو مخې ته ئې اودرولو او اوئې وئیل: څویه! دا دي ستا غټ او اوچت خدایان! دوئي ته سجده اوکړه! (اَسْتَغْفِرُ الله !اَسْتَغْفِرُ الله!)

دا ئې چې اووئیل نو ابو قحافه یو طرف ته لاړے- اوس صِرف صدیقِ اَکبَر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ دے او مخې ته ئې د کاڼو بُتان، هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ لږ رامخکښې شول، د یو بُت خوا له لاړل او اوئې فرمائیل: اِنِّیْ جَائِعٌ فَاَطْعِمْنِیْ زه وږے یم، په ما خوراک اوکړه! هغه بے ځانه کاڼے وو، نه هغه څه وئیلے شو، نه ئې اووئیل- حضرت صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ دویمه پوښتنه اوکړه: اِنِّیْ عَارٍ فَاکْسِنِیْ زما جامې نشته، ماله جامې راکړه! کاڼي به څه وئیل؟ اوس حضرت صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په جلال کښې راغلے، هغوئي یوه کاڼے اوچت کړو او اوئې فرمائیل: زه دې په کاڼي اوَم، که چرې خدائے ئې نو خپل ځان ترې بچ کړه!

اَللهُ اَکْبَرا! د 4 کالو ماشوم! د هغه په مَټو کښې به څومره طاقت وي؟ څومره په زوره به ئې په کاڼي وولي؟ خو د حضرت صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د مَټو طاقت ته اوګورئ! هغوئي بُت په کاڼي اوویشتو، فَخَرَّ لِوَجْهِهٖ هغه بُت د هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د مَټو طاقت برداشت نکړے شو او پړ مخ په زمکه راپریوتو او ټوټې ټوټې شو- د دې د راپریوتو آواز ئې چې واوریدو نو حضرت ابو قحافه په منډه راغلے، د خپل باطِل خدائے حال ئې چې بے حاله اولیدو نو په غصه کښې ئې حضرت صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ له یو پړق ورکړو او د مَټ نه ئې اونیولو او کور ته ئې بوتللو، د هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ مور بي بي ته ئې اووئیل: اوګوره! نن ستا څوي دا کارنامه کړې ده- د هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ مور بي بي چې ټوله واقعه واوریدله نو اوئې وئیل: زما څوي پریږده! د ده هیڅ قصور نشته، کله چې دا پیدا شو نو د غیب نه آواز راغلے وو: یَا اَمَةَ اللهِ عَلَى التَّحْقِیْقِ اے د الله پاک رښتوني بندې، اِبْشِرِیْ بِالْوَلَدِ الْعَتِیْقِ آزاد څوي دې

مبارک شه! اِسۡمُهٗ فِی السَّمَاءِ الصِّدِّیۡق په آسمان کښې د ده نوم صِدِّيق دے، وَلِمُحَمَّدٍ صَاحِبٌ وَّرَفِيۡق او دا د مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دوست دے-

یقینا مَنْبَعِ خوفِ خدا صدیقِ اکبر ہیں
حقیقی عاشقِ خَیرُ الوَریٰ صدیقِ اکبر ہیں

جو یارِ غارِ محبوبِ خدا صدیقِ اکبر ہیں
وہی یارِ مزارِ مصطفےٰ صدیقِ اکبر ہیں[1]

اَمِيرُ الۡمُؤۡمِنِين حضرت ابو بکر صديق رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ د خپل ماشومتوب شريف دا واقعه پخپله د نبيانو د سردار صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په موجودګئ کښې، د صحابۀ کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان په مخکښې واوروله، چې کله ئې پوره واوروله نو حضرت جبريل امين عَلَيۡهِ السَّلَام حاضِر شو او 3 ځل ئې اووئيل: صَدَقَ اَبُوۡبَکۡرٍ ابو بکر رښتيا اووئيل- صَدَقَ اَبُوۡبَکۡرٍ ابو بکر رښتيا اووئيل- صَدَقَ اَبُوۡبَکۡرٍ ابو بکر رښتيا اووئيل-[2]

اَصۡدَقُ الصَّادِقِين سَيِّدُ الۡمُتَّقِين
چشم و گوشِ وِزارت پہ لاکھوں سلام[3]

**وضاحت**: يعني په رښتينو کښې رښتونے، د تقویٰ والوؤ سردار، د مصطفٰے وزير، په حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ دې په لکونو سلامونه وي-

## د صِدِّيق د ايمان شان

د صحابئ رسول حضرت عبد الله بن عمر رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ نه روايت دے، د الله پاک آخِري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: لَوۡ وُزِنَ اِيۡمَانُ اَبِيۡ بَکۡرٍ بِاِيۡمَانِ اَهۡلِ الۡاَرۡضِ لَرَجَحَ يعني که چرې د ټلې په يو چابړي کښې د ابو بکر ايمان کيښودے شي، په دويم چابړي کښې

---

[1]...وسائلِ بخشش، صفحہ:565-
[2]... اِرۡشَادُ السَّارِی، کتاب مناقب انصار، باب اسلام ابو بکر صدیق، جلد:7، صفحہ:63-
[3]...حدائقِ بخشش، صفحہ:312-

د زمکې د ټولو خلقو ايمان کېښودے شي نو د ابو بکر ايمان به د زمکې د ټولو ايمان والوؤ نه درونډ وي-[1]

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! څومره ښکلے شان دے د صِدِّيق رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د ايمان- په زمکې والوؤ کښې صحابۀ کرام عليهمُ الرِّضوَان هم دي، تابعين هم دي، د قيامت د ورځې پورې راتلونکي د اُمَّت اوليائے کرام هم دي، د تيرو اُمّتونو مسلمانان هم دي، د دې ټولو ايمان يو طرف ته او د يارِ غارِ مصطفٰے، عاشقِ اکبر، حضرت ابو بکر صِدِّيق رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ ايمان بَل طرف ته، که چرې د دې ټولو ايمان په تَله کښې کېښودے شي او د حضرت ابو بکر صِدِّيق رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د ايمان سره اوتللے شي نو د حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ ايمان به ډير درونډ وي-

اُن کے مَدّاح نبی، اُن کا ثَنا گو اللہ | حق اَبُو الفَضل کہے اور پیمبر صِدِّیق[2]

## کله چې د صِدِّيق رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ ايمان په تَله کښې اوتللے شو---!!

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! يو وي صِرف عِلم، يوه وي تجربه، په دواړو کښې ډير فرق دے- مثلاً يو کَس دے، هغه وائي: شات خواږه وي- خو حالت ئې دا دے چې ده په ژوند کښې چرته شات خوړلي نه دي، په يو کتاب کښې ئې لوستلي دي، يا ئې د خلقو نه اوريدلي دي او وائي چې شات خواږه وي- يو بَل کَس دے، هغه شات ښکپله خوړلي دي، هغه هم وائي: چې شات خواږه وي- اوس خبره د دواړو رښتيا ده، شات واقعي ده چې خواږه وي خو د دواړو په خبره کښې فرق دے، وړومبي کَس صرف د خلقو نه اوريدلي

1... الکامل فی الضعفاء الرجال، جلد:5، صفحہ:214، رقم:1015-عبد اللہ بن عبد العزیز بن ابی روّاد -

2... دیوانِ سالک، صفحہ:70

دي او وائي، دویم ګس خپله تجربه وائي، د دواړو په ځان اعتمادئ کېږي، د دواړو په رښتیاؤ کېږي به ډېر فرق وي-

قربان شم! زمونږه د آقا او مولیٰ، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم صِرف د فرمان دا حالت دے چې کومه خبره د مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خُلې مبارکې نه ووځي، هغه د کاڼي کرښه وي، دُنیا بے ځایه کیدے شي، زمکه بره، آسمان ښکته کیدے شي خو د مُحَمَّدٌ رَّسولُ اللّٰه صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان نشي بدلیدے، بلکه زمونږه د آقا، د مدینې والا مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شان خو دا دے چې

تمہارے مُنہ سے جو نکلی وہ بات ہو کے رہی | جو دِن کو کہہ دیا شب تورات ہو کے رہی

**اے عاشقانِ رَسُول!** اوس اندازه اولګوئ! د چا د فرمانِ عالیشان چې دا حالت وي په کوم کېږي چې د شک او شُبې یو فیصد ګنجائش هم نه وي، د هغه د تجربې حالت به څه وي-

اوس واورئ! زمونږه خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې څه اوفرمائیل:

لَوْ وُزِنَ اِيْمَان اَبِيْ بَكْرٍ مَعَ اِيْمَانِ اَهْلِ الْاَرْضِ لَرَجَحَ (که چرې د ابو بکر ایمان د ټولې زمکې والؤ د ایمان سره اوتللے شي نو د ابو بکر ایمان به دروند وي)- (1) دا خبره رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم صِرف د خپل عِلم نه اونکړه، باقاعده د دې تجربه ئې هم کړې ده، آؤ جي! حدیثِ پاک واورئ! د اللّٰه پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي، مکي مدني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: ما اولیدل چې زه جنّت ته ننوتے یم، بیا یوه تَله راوړے شوه، د هغې په یو چاړې کښې زه کیښنولے شوم، په بَل چاړې کښې ټول اُمَّت کیښنولے شو نو زما وزن د ټول اُمَّت نه زیات وو، بیا په **یو چاړې کښې ټول اُمَّت کیښودے شو، په**

---

[1]... الکامل فی الضعفاء الرجال، جلد:5، صفحہ:214، رقم:1015-

بَل چاېري کښي ابو بکر صِدِّيق رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ کيښنولے شو نو ابو بکر صِدِّيق رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ د ټول اُمَّت نه زيات دروند وو۔ (1)

عِلْم میں زُہد میں بے شُبہہ تُو سب سے بڑھ کر
اِس امامت سے کُھلا تم ہو امامِ اکبر
کہ امامت سے تری کھل گئے جوہر صِدّیق
تھی یہی رمزِ نبی، کہتے ہیں حیدر صِدّیق (2)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب      صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## مضبوط دين والا

د بُخاري او مسلم حديثِ پاک دے، د صحابئ رسول حضرت ابو سعيد خدري رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ نه روايت دے، د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: ما خوب اوليدو، ماته خلق وړاندې کړے شول، هغوئي قميصونه اغوستي وو، د چا قميص د سينې پورې وو، د چا د هغې نه هم کم (او په يو روايت کښې دي: د چا قميص د سينې پورې وو، د چا د نامې پورې، د چا د زنګون پورې، د چا د نيمو پنډو پورې (3) )، بيا ماته عمر فاروقِ اعظم (رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ) اوښودلے شو، د هغه قميص د هغه د خپو نه هم ښکته وو چې په ګرځيدو کښې به ئې راښکلو۔ صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ پوښتنه اوکړه: يا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! تاسو د دې څه تعبير اوکړو؟ اوئې فرمائيل: دِين۔ (4)

يعني هغه خلق د چا قميص چې د سينې پورې وو، هغه کمزوري ايمان والا وو، د چا

---

1... الابانۃ الکبریٰ لابن بطۃ، جز:4، جلد:6، صفحہ:816، حدیث:243۔
2... دیوانِ سالک، صفحہ:72۔
3... الصواعق المحرقۃ، باب الخامس، فصل الرابع، صفحہ:119، حدیث:41۔
4... بخاری، کتاب بدء الایمان، باب تفاضل اہل الایمان فی الاعمال، صفحہ:76، حدیث:23۔

قمیص چې د نامې پورې وو، هغوئي لره شان مضبوط ایمان والا، د چا قمیص چې د زنګونانو پورې وو، هغوئي نور کامِل ایمان والا، د چا چې د نیمو پنډو پورې وو، د هغوئي ایمان د مخکښینو نه زیات مضبوط وو او په دې ښودلے شوؤ خلقو کښې د ټولو نه مضبوط او کامِل او اکمل ایمان والا حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ وو چې د هغوئي قمیص د خپو نه ښکته زوړند وو۔

سُبْحٰنَ الله! د دې خوب او د نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د تعبیر نه دا معلومه شوه چې حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ډیر زیات د کامِل ایمان او مضبوط دین والا دے۔

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** دا د کامِل ایمان او د مضبوط دین والا شخصیت یعني حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د خپل پیشوا او امام یعني حضرت ابو بکر صِدّیق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ په باره کښې څه فرمائي؟ واورئ! په روایتونو کښې دي: د مسلمانانو دویم خلیفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ اوفرمائیل: لَوْ وُزِنَ اِیْمَانُ اَبِیْ بَکْرٍ بِاِیْمَانِ اَهْلِ الْاَرْضِ لَرَجَحَ بِهِمْ که چرې د ابو بکر ایمان د ټولې زمکې والوؤ د ایمان سره اوتللے شي نو د ابو بکر ایمان به د ټولې زمکې والوؤ د ایمان نه درروند اوخیژي [1] بیا ئې اوفرمائیل: وَدِدْتُّ اَنِّیْ شَعْرَةٌ فِیْ صَدْرِ اَبِیْ بَکْرٍ زما خواهش دے چې کاش! زه د ابو بکر صِدّیق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د سینې یو ویښته وے۔ [2]

اَللهُ اَکْبَر! اے عاشقانِ رَسُول! د ابو بکر صِدّیق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د ایمان شان ته اوګورئ! په اُمَّت کښې د زیات کامِل ایمان والا، د ډیر زیات مضبوط دین والا شخصیت حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د سینې د یو ویښته کیدو خواهش کوي۔ اوس

---

1... فضائل الصحابہ لاحمد بن احنبل، صفحہ:418،حدیث:653۔
2... موسوعہ ابن ابی الدنیا، کتابُ الْمُتَمَنِّیْن، جلد:2، صفحہ:551۔

غور اوکړئ! زمونږ په شان د ګنهګارانو د ایمان به د جنابِ صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د ایمان سره څه مقابله اوشي---!!

| | |
|---|---|
| مصطفٰی کے ہمسفر! ابو بکر ابو بکر | گلی گلی نگر نگر! ابو بکر ابو بکر |
| لٹایا جس نے اپنا گھر! ابو بکر ابو بکر | احسان جس کا دین پر! ابو بکر ابو بکر |
| ہیں چرچے جس کے عرش پر! ابو بکر ابو بکر | لگے گا نعرہ فرش پر! ابو بکر ابو بکر |

## د صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ ایمان په درجهٔ مشاهده کښې وو

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د ایمان مختلف کیفیتونه او مختلفې درجې وي، مثلاً د ایمان یوه درجه دا ده: درجهٔ مشاهده او یوه درجه: درجهٔ مجاهده ده- د مجاهدې معنیٰ ده: پوره کوشش کول- کوم بنده چې د ایمان په درجهٔ مجاهده کښې وي، هغه د ایمان په تقاضو باندې عمل خو کوي خو د دې د پاره هغه ته شیطان لعین لرې تختول او د شیطان سره جګړه کول وي خو هغه بنده کوم چې د ایمان په درجهٔ مشاهده کښې وي، هغه چې کله عبادت کوي نو د هغه ټول پام د الله کریم په لور وي، هغه د الله پاک د قُدرت، د هغه د صِفتونو په تجلو کښې داسې ورَک وي او داسې عبادت کوي، لکه هغه چې الله پاک وینې-

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ! د مسلمانانو د وړومبي خلیفه، امیر المؤمنین حضرت ابو بکر صِدّیق رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ شان دا دے چې هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د ایمان په درجهٔ مُشاهده کښې وو- هم دغسې شیخُ المَشَائِخ (یعني د اولیائے کرامو استاذ) حُضُور داتا ګنج بخش علي هجویري رَحۡمَةُ اللہِ عَلَیۡه فرمائي: په حدیثونو کښې راغلي دي چې حضرت ابو بکر صدیق رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ به د شپې په لمونځ کښې د قرآنِ کریم تلاوت په رو آواز کښې فرمائیلو او کله چې به حضرت عمر

فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہ لمونځ کولو نو قرآنِ کريم به ئې په تيز آواز کښې لوستلو، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہ نه پوښتنه اوکړه: اے عمره! ته د شپې په په تيز آواز کښې تلاوت ولې کوې؟ عرض ئې اوکړو: اُوْقِظُ الْوَسْنَانَ وَ اَطْرُدُ الشَّيْطَانَ يعني زه اوده راپاڅووم او شيطان تختووم- خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د حضرت ابو بکر صِدِّيق رَضِیَ اللہُ عَنْہ نه پوښتنه اوکړه: اے ابو بکر! ته په رو آواز کښې تلاوت ولې کوې؟ عرض ئې اوکړو: قَدْ اَسْمَعْتُ مَنْ نَاجَيْتُ يَا رَسُوْلَ الله يعني يا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! زه چې ئې کوم رَبِّ کريم ته اوروom، هغه رَبِّ کريم (خو د زړونو د حال نه ښه خبر دے، ځکه) زما په قلاره لوستل هم اوري-[1]

داتا حُضُور رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: دا (يعني د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہ په عمل مبارک کښې) د مجاهدے شان ښرګند دے او د حضرت ابو بکر صِدِّيق رَضِیَ اللہُ عَنْہ په عمل مبارک کښې د مشاهدے شان ښرګند دے- داتا حُضُور رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ نور فرمائي: د مُشَاهدے او مُجَاهدے مثال داسې دے لکه په سمندر کښې څاڅکے (يعني د ايمان درجۀ مشاهده که چرې سمندر دے نو درجۀ مُجَاهده د يو څاڅکي په شان ده)[2]

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دا دے د صِدِّيق [رَضِیَ اللہُ عَنْہ] د ايمان شان--!! حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہ د چا په باره کښې چې سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوب اوليدلو او تعبير ئې څه اوفرمائيلو؟ د دِين مضبوطي- هغه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہ د چا نه چې د اسلام عزّت او وقار زيات شو، هغه

---

[1] ...ابو داود، کتاب التطوع، باب رفع الصوت بالقراءة في صلاة الليل، صفحه:217، حديث:1329-
[2] ...کَشْفُ الْمَحْجُوب(مترجم)، صفحه:102 بتغير قليل-

حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ په مقابله کښې د يوې حصې نيکۍ مالِک دے نو غور اوکړئ! د دُنيا باقي پاتې خلق به د حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ په مقابله کښې په کومه درجه باندې وي---!!

عمر سے بھی وہ افضل ہیں وہ عثماں سے بھی ہیں اعلیٰ
یقیناً پیشوائے مُرتَضیٰ صِدّیقِ اکبر ہیں
خُدائے پاک کی رحمت سے انسانوں میں ہر اِک سے
فُزوں تر بعد از کُل انبیا صِدّیقِ اکبر ہیں [1]

## د "صِدِّيقِ اَکبَر" معنیٰ

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د مسلمانانو د وړومبي خليفه حضرت ابو بکر صِدِّيق رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ ډير ښکلے او مشهور لقب دے: صِدِّيقِ اَکبَر- دا لقب هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ ته د کوم ځائے نه ميلاؤ شو؟ چا ورکړو؟ حضرت ابو بکر صِدِّيق رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ له دا لقب اللّٰه پاک ورکړو، حضرت جبريلِ امين عَلَیۡہِ السَّلَام هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ ته صِدِّيقِ اکبر اووئيلو، سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هم هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ ته د صِدِّيقِ اَکبَر مبارک لقب ورکړلو-

اوس غور دا کول دي چې د **صِدِّيقِ اَکبَر** معنیٰ څه ده؟ هسې خو د **صِدِّيق** معنیٰ ده: ډير رښتونے- خو په دې ځائے کښې د **صِدِّيق** معنیٰ رښتونے نه بلکه د دې معنیٰ ده: تَصدِيق کولو والا- **تَصدِيق** څه ته وائي؟ ډير پوخ يقين او باور ته تَصدِيق وئيلے شي او دا تَصدِيق څه دے؟ تَصدِيق ايمان دے- آؤ جي! د اِيمان تعريف دے: هُوَالتَّصۡدِیۡقُ بِمَا جَآءَ بِہٖ مُحَمَّد يعني مُحَمَّد مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې کوم دِين راوړلو، د دې دِين تَصدِيق کولو ته ايمان

[1]... وسائلِ بخشش، صفحہ:566-

وئيلے شي- (1) غرض: ايمان د تَصدِيق نوم دے او د صِدِّيق معنىٰ ده: تَصدِيق کولو والا- يعني د **صِدِّيقِ اکبر** معنىٰ به وي: د الله پاک په آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې، د هغوئي په راوړے شوي دِين باندې د ټولو نه زيات داسې ايمان راوړلو والا، چې هغه شان ايمان بَل چا نه وي راوړے-

| | |
|---|---|
| سبھی علمائے اُمّت کے، امام و پیشوا ہیں آپ | بلاشک پیشوائے اَصفیا صدّیقِ اکبر ہیں |
| خدائے پاک کی رحمت سے انسانوں میں ہر اک سے | فُزوں تر بعد از کُل انبیا صدّیقِ اکبر ہیں (2) |

## صِدِّيقِ اکبر تَصدِيق کولو والا دے

په 24 سيپاره، سورۂ زُمر، آيت: 33 کښې الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَالَّذِیْ جَآءَ بِالصِّدْقِ وَصَدَّقَ بِهٖۤ اُولٰٓىِٕكَ هُمُ الْمُتَّقُوْنَ (۳۳) (پاره:24، سورۂ زُمر:33) | ترجَمۂ کنزُ الايمان: او هغه چا چې د دې رښتياؤ سره تشريف راوړلو او هغه چا چې د دې تَصدِيق اوکړو دا ويريدلو والا دي- |

د مسلمانانو خلورم خليفه، حضرت علي المرتضىٰ شيرِ خُدا رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: په دې آيت کښې د رښتياؤ راوړلو والا نه مُراد د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پاک ذات دے او د **تصديق کولو والا** نه حضرت ابو بکر صديق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ مُراد دے- (3)

| | |
|---|---|
| اَصدَقُ الصّادِقِیں سَیِّدُ المُتَّقیں | چشم و گوشِ وِزارت پہ لاکھوں سلام (4) |

---

1... شرح العقائد النسفيه، صفحه:273-
2... وسائلِ بخشش، صفحه:566-
3... تفسيرِ کبير، پاره:24، سورۂ زُمر، زيرِ آيت:33، جلد:9، صفحه:452-
4... حدائقِ بخشش، صفحه:312-

## صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ بے د څه شک شبې نه ایمان راوړلو

حضرت عبد الله تمیمي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ روایت کوي، د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: ما چې کوم کَس ته هم د اسلام دعوت ورکړو هغه شک شُبه او لږ شان غور او فِکر ضرور اوکړو خو ابو بکر صدیق داسې دے چې کله ما هغه ته د اسلام دعوت ورکړو نو هغه بے د څه شک شبې او غور او فِکر نه فوراً کلمه اووئیله- (1)

سُبۡحٰنَ الله! دا شان دے د صِدِّیق [رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ] د ایمان---!!

بیاں ہو کس زباں سے مرتبہ صِدّیقِ اکبر کا | ہے یارِ غار محبوبِ خدا صِدّیقِ اکبر کا (2)

## د "صِدِّیق د ایمان" ګواهي

د بُخاري شریف حدیثِ پاک دے، صحابئ رسول حضرت ابو هریره رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: یوه ورځ د الله پاک آخِري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مونږ له د سحر د لمونځ جَمع راکړله، د سلام ګرځولو نه پس ئې زمونږ طرف ته د نور نه ډَک مخ راواړولو او اوئې فرمائیل: یو کَس خپله غوا بوتلله، بیا هغه په هغې سور شو او غوا ئې وهله، په دې باندې غوا هغه کَس ته اووئیل: اِنَّا لَمۡ نَخۡلُقۡ لِهٰذَا یعني مونږه غواګانې د دې کار (یعني د سورلۍ) د پاره نه یو جوړې کړے شوې، اِنَّمَا خُلِقۡنَا لِلۡحَرۡثِ مونږه خو الله پاک د ګرکیلې د پاره پیدا کړي یو-

(اوس چې غوا، بے زبانه ځناور په عربۍ ژبه کښې خبرې اوکړې، د حیرانتیا خبره خو ده،

---

1... تاریخ مدینہ دمشق، جلد:30، صفحہ:44 -
2... ذوقِ نعت، صفحہ:76 -

ځکه) صحابهٔ کرامو علیھمُ الرّضوَان په حيرانتيا سره اووئيل: سُبْحٰنَ الله! آيا غوا هم خبرې کوي؟ خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د صحابهٔ کرامو عَلیھمُ الرّضوَان د دې حيرانتيا په باره کښې اوفرمائيل: فَاِنِّیْ اُوْمِنُ بِھٰذَا، اَنَا وَ اَبُوْبَکْرٍ وَ عُمَر (يعني غوا خبرې نه کوي خو که چرې الله پاک اوغواړي نو غوا له هم د خبرو کولو طاقت ورکولے شي او) په دې خبره باندې ما هم ايمان راوړو، ابو بکر هم ايمان راوړو او عمرِ فاروق هم د دې تَصدِيق اوکړو-

بيا خوږ آقا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم يوه بله واقعه بيان کړله، اوئې فرمائيل: يو شپونکي خپلې چيلئ [بيزې] ساتلې، ناخاپه يو شرمخ په چيلو باندې حمله اوکړه او يوه چيلئ ئې د نيولو سره يوړله، شپونکي په هغه شرمخ پسې منډې کړې او آخِر ئې د هغه نه چيلئ [بيزه] راخلاصه کړه، کله چې هغه د شرمخ نه چيلئ په زوره واخِستله نو شرمخ د شپونکي طرف ته توجو اوکړه او اوئې وئيل: اے شپونکيه! لږ اووايه! کله چې د ماتوونکو ځناورو ورځ راشي، هغه ورځ به د دې چيلو حفاظت څوک کوي---؟ په دې باندې هم صحابهٔ کرامو علیھمُ الرّضوَان په حيرانتيا سره اووئيل: سُبْحٰنَ الله! آيا شرمخ هم خبرې کوي؟ خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بيا هم هاغه جواب ورکړلو، اوئې فرمائيل: فَاِنِّیْ اُوْمِنُ بِھٰذَا، اَنَا وَ اَبُوْبَکْرٍ وَ عُمَر (يعني شرمخ خبرې نه کوي خو که چرې الله پاک اوغواړي نو شرمخ له هم د خبرو کولو طاقت ورکولے شي او) په دې خبره باندې ما هم ايمان راوړو، ابو بکر هم ايمان راوړو او عمرِ فاروق هم د دې تَصدِيق اوکړو-[1]

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دا دے د صِدّيق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د ايمان او د فاروق

---

[1]... بخاری، کتاب احادیث الانبیاء، صفحہ:891، حدیث:3471 -

رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ د ایمان شان---!! صحابهٔ کرامو عَلَیهِمُ الرِّضوَان پوښتنه کړې وه، د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په فرمان ئې ځان پوهه کول غوښتل، خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې جواب څه ورکړلو؟ هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صدیق او فاروق ایمان د ګواه په طور بیان کړلو چې زه د رسولِ خدا [صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم] کیدلو سره هم په دې ایمان لرم، ابو بکر [رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ] د صدیق کیدلو سره ایمان لري، عمر رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ د فاروق کیدلو سره ایمان لري نو یقیناً خبره هم داسې ده، لکه څنګه چې ما کړې ده- علّامه اِبنِ حجر رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه فرمائي: (خوږ آقا، د مدینې والا مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صحابهٔ کرامو عَلَیهِمُ الرِّضوَان د حیرانتیا په جواب کښې د صِدّیقِ اکبر او فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنۡهُما ایمان د شهادت په طور ذِکر کړلو، دا په دې وجه باندې چې) د صِدّیق او فاروق رَضِیَ اللهُ عَنۡهُما ایمان ډیر کامِل او یقین ډیر پوخ دے- (1)

## په الله او رسول باندې کامِل باور

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د حضرت صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ ایمان څومره مضبوط وو! په دې باره کښې یوه ډیره مشهوره واقعه ده: د غزوهٔ تبوک موقع وه، د دِین د خِدمت د پاره د مال ضرورت وو، سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صدقې او خیرات ترغیب ورکړلو، صحابهٔ کرامو عَلَیهِمُ الرِّضوَان د خپل خپل وَس مطابق د الله پاک په لاره کښې مال وړاندې کړو او مَاشَآءَ الله! صِدّیقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ خو بیا صِدّیقِ اکبر دے- خپل کور ته لاړلے، د کور ټول سامان ئې راواخِستلو او په بارګاهِ رسالت کښې ئې

---

[1]... فتح الباری، کتاب فضائل اصحاب النبی، باب قول النبی...الخ، جلد:7، صفحه:35، تحت الحدیث:3663 -

وړاندې کړلو- کله چې ترې د اللّٰه پاک آخِري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پوښتنه اوکړله: اے ابو بکره! د کور والوؤ د پاره دې څه پريښودي دي؟ نو عرض ئې اوکړو: **يا رسولَ اللّٰه! د کور والوؤ د پاره اللّٰه او د هغه رسول کافي دي-** [1]

| | |
|---|---|
| پروانے کو چراغ تو بُلبُل کو پھول بس | صِدّیق کے لئے ہے خُدا کا رسول بَس |

## د رِزق فِکر ورسره نه وو

سُبْحٰنَ اللّٰه! **خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** تاسو اوکتل چې د حضرت ابو بکر صِدِّيق رَضِیَ اللہُ عَنْہُ ايمان مبارک څومره کامِل او يقين څومره پوخ دے، په کور کښې ئې يوه دانه هم پرې نه ښودله، ټول مال ئې راټول کړو او په بارګاهِ رسالت کښې ئې وړاندې کړو او يقين، اطمينان او تَوَكُّل ته خو ئې اوګورئ! عرض کوي: يا رسولَ اللّٰه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د کور والوؤ د پاره اللّٰه او د هغه رسول کافِي دي- حضرت ابو بکر صِدِّيق رَضِیَ اللہُ عَنْہُ پخپله فرمائي: د کومې ورځې نه چې ما د (12 سيپارې، د سورهٔ هود) دا آيت:

| | |
|---|---|
| وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِي الْاَرْضِ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ رِزْقُهَا (پاره:12، هود:6) | ترجَمهٔ کنزُ العرفان: او په زمکه ګرځيدونکے څه داسې ساه لرونکے نشته د کوم رزق چې د اللّٰه په ذمهٔ کرم باندې نه وي- |

لوستلے دے، په اللّٰه مې دې قسم وي! ما د رزق فِکر پريښودے دے- [2]

---

1...ترمذی، کتاب المناقب عن رسول اللہ، باب فی مناقب ابی بکر وعمر، صفحہ:838،حدیث:3684-
2... کتاب اللمع، صفحہ:172-

الله پاک دې د صِدّيق اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ په برکت زمونږه هم داسې يقين، پوخ ايمان نصيب کړي۔

اٰمِیْن بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

یقیناً مَنبعِ خوفِ خدا صدّیقِ اکبر ہیں
حقیقی عاشقِ خیرُ الوریٰ صدّیقِ اکبر ہیں

بلاشک پیکرِ صبر و رِضا صدّیقِ اکبر ہیں
یقیناً مخزنِ صدق و وفا صدّیقِ اکبر ہیں

نہایت مُتّقی و پارسا صدّیقِ اکبر ہیں
تقی ہیں بلکہ شاہِ اَتقیا صدّیقِ اکبر ہیں

امیر المؤمنیں ہیں آپ امامُ المُسلمیں ہیں آپ
نبی نے جنّتی جن کو کہا صدّیقِ اکبر ہیں [1]

## د صِدّيق د ايمان د کمال يو راز

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د حضرت ابو بکر صِدّيق رَضِیَ اللہُ عَنْہُ داسې کامِل ايمان نصيب کيدل يقيناً د الله پاک په عنايت او د هغه په عطا سره دي، البته دا دنيا دارُ الاَسباب ده، يقيناً چې د هغوئي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د ايمان د کمال به څه ظاهري وجه هم وي، هغه څه ده؟ عُلمائے کرام فرمائي: حضرت صِدّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ به هره ورځ په بارګاهِ رسالت کښې حاضريدلو، هره ورځ به ئې صِرف يوه پوښتنه کوله: يا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! ايمان څه ته وئيلے شي؟ سرکارِ عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د ايمان يوه درجه بيان کړله حضرت صِدّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ به په هغې باندې عمل کولو او په بَله ورځ به راغلے او بيا به ئې هم هغه پوښتنه اوکړه: يا رسولَ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! ايمان څه ته وئيلے شي؟ رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د ايمان بَله درجه بيان کړله داسې به حضرت صِدّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ هره ورځ د ايمان يوه نوې درجه زده کوله او په يوه ورځ کښې

[1]... کتاب اللمع، صفحہ:172۔

به ئې په هغې باندې عمل کولو او بَله ورځ به ئې نوے سبق اخستلو، داسې به ئې کول، هره ورځ به ئې پوښتنه کوله، د ايمان د يوې يوې درجې نه به تيريدلو، تر دې پورې چې ايمان ئې اوچتې درجې ته اورسيدلو- (1)

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! ولولې ته اوګورئ! شوق او ذوق ته اوګورئ! حضرت صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ به هره ورځ پوښتنه کوله: يا رسولَ الله! ايمان څه دے او کوم جواب چې به ميلاؤ شو په هغې به ئې په يوه ورځ کښې عمل کولو، د ايمان د هغې درجې نه به تيريدلو او په بله ورځ به بيا حاضِريدلو-

سُبْحٰنَ الله! الله پاک دې زمونږ هم داسې ولوله، داسې جذبه، داسې شوق نصيب کړي، ګني نو زمونږ خو عجيبه حال دے ❁ د کاروبار په باره کښې خامخا سوچ کولے شي ❁ د مال په باره کښې حِساب کتاب خامخا کولے شي ❁ د کال مخکښينے آمدن څومره وو ❁ اوس څومره دے ❁ په راتلونکو 5 کالو کښې کاروبار کوم ځائے ته رَسَوَل دي ❁ د کاروبار وغيره د ترقئ جاج اخستو د پاره په مختلفو اندازو سره ګراف جوړولے او ويستلے شي ❁ کليزې، مياشتنئ جائزې هم اخستے کيږي ❁ د پوهانو نه مشورې هم اخستے کيږي خو افسوس---!! ❁ په ايمان کښې څومره ترقي اوشوه په دې باره کښې څوک سوچ کوي---!! ❁ د مسلمانانو په کور کښې پيدا شوي وو ❁ 20 کاله، 30 کاله، د چا 40، 50 يا 60 کاله هم اوشول چې دُنيا ته راغلي دي ❁ کله چې بالغ شوي وو، هغه وخت د ايمان کيفيتونه چې وو، اوس هم هغه دي ❁ د عشقِ رسول چې کوم کيفيت هغه وخت وو، اوس هم هغه دے ❁ د قرآنِ کريم د تلاوت کولو په وخت، هغه وخت هم ژړا نه راتلله،

---

1... سبع سنابل مترجم، صفحه:68 بتغیر قلیل-

اوس هم نه راځي، بلکه د دې نه زیاته **د خفګان او د افسوس** خبره خو دا ده چې ډېر مسلمانان داسې هم دي کوم چې د کتلو سره هم قرآنِ کریم نشي لوستے ❁ د عذاب د آیتونو لوستلو سره به زړه د الله پاک د ویرې نه هغه وخت هم نه دردیدلو، او اوس هم نه دردیږي ❁ په لمونځ کښې زړه 20 کاله مخکښې هم نه لګیدو، اوس هم نه لګي---!! آه! کاش! زمونږ د خپل ایمان فِکر نصیب شي ❁ د دُنیا د ټولو نه غټ دولت خو دا ایمان دے ❁ د دې ایمان د دولت په ذریعه خو به جنّت میلاؤیږي ❁ د جنّت محلونه به نصیب کیږي ❁ د جنّت نعمتونه به نصیب کیږي ❁ په جنّت کښې به د آقا، د مدینې والا د مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ګاؤنډ نصیب کیږي ❁ د دې دولت یعني د ایمان پخَوَلو ❁ د ایمان د کیفیتونو زیاتولو هیڅ فِکر نشته، کیدے شي چې ډېر خلق وي، چا چې به چرې سوچ هم نه وي کړے چې د ایمان کیفیتونه هم زیاتیدل پکار دي بلکه کیدے شي چې ډیرو خو نن اوریدلي وي چې دا هم څه کار دے-

آؤ جي! **خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** دا هم یو کار دے بلکه د ټولو نه اهم کار دے، مونږه مؤمنان یو، ایمان زمونږه د ژوند سرمایه ده، د دې ایمان د کیفیتونو د ترقئ هم مونږ له فِکر کول دي-

## د اِیمَان په تقاضو باندې عَمَل اوکړئ!

د ایمان ډیرې شعبې وي، کومې چې په حدیثونو کښې بیان شوې دي، مُحَدِّثینو کرامو د ایمان د شعبو په باره کښې پوره پوره کتابونه لیکلي دي، دا شعبې په اصل کښې د ایمان تقاضې دي، په دې باندې په مضبوطئ سره په عمل کولو سره ایمان مضبوطیږي- مثلاً:

❁ د الله پاک محبّت د ایمان یوه شعبه ده ❁ د الله پاک نه ویره د ایمان یوه شعبه ده ❁

عشقِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د ایمان یوه شعبه ده ❀ لمونځ کول د ایمان یوه شعبه ده، چې مونږه د لمونځونو پابندي اختیار کړو ❀ روژې نیول د ایمان شعبه ده، روژې اونیسو، ایمان به مو مضبوط شي ❀ حج کول ❀ زکوٰة ورکول ❀ د دِین خِدمت کول ❀ شُکر ادا کول ❀ ژبه د ګناهونو نه بچ کول ❀ حیا خپلول ❀ ګناه پرېښودل دا ټولې د ایمان شعبې دي، په دې باندې په مضبوطۍ سره د عمل کولو سره ایمان مضبوطیږي، کاش! چې مونږه د ایمان په دې شعبو باندې د مضبوطۍ سره عمل کوونکي جوړ شو، لکه څنګه چې د کاروبار، د آمدن خرچ وغیره ګراف جوړوو، داسې د دې هم یو ګراف جوړول پکار دي، مثلاً ❀ په ورځ کښې 5 لمونځونه کول خو فرض دي، دا خو خامخا ادا کول دي ❀ د دې سره سره چې مونږه د نفلونو ګراف هم جوړ کړو، د مثال په طور په دې میاشت کښې به د 5 لمونځونو سره سره هره ورځ 10 نفلونه هم کووم، بیا به په بَله میاشت کښې د 10 په ځائے 20 نفلونه، بیا په دریمه میاشت کښې 30 نفلونه ❀ داسې د روژو هم ګراف جوړیدے شي ❀ د قرآنِ پاک د تلاوت ❀ د دُرُود شریف د لوستلو ❀ د ذِکرُ الله کولو هم جوړیدے شي، کاش! چې مونږه د خپل ایمان مضبوطولو، په زړه کښې د الله او د رسول د محبت زیاتولو د پاره فِکر مند شو۔

الله پاک دې شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ سلامت لري، هغوئي د فتنو نه په دې ډَک دور کښې د نیک جوړیدو او د ایمان مضبوطولو د پاره مونږ له د 72 نیک اَعمَال په شکل کښې بهترینه نُسخه راکړه، دا 72 نیک اعمال د اسلامي ورونړو د پاره دي، د دې نه علاوه د اسلامي خوئیندو د پاره 63 نیک اعمال، د طالبِ علمانو د پاره 92 نیک اَعمَال، د وړو پوهه ماشومانو د پاره 40 نیک اعمال دي، اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ! دا نیک اَعمَال زیاتره د ایمان په

هغه شعبو باندې مشتمل دي، په کومو چې د عمل کولو په برکت سره ایمان مضبوطیږي، که چرې مونږه کوشش اوکړو او په دې نیک اعمال په خپل ژوند کښې عمل اوکړو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! کردار به مو هم ښه شي، زړه به مو هم پاک شي او که الله پاک اوغوښتل نو ایمان به هم پوخ شي- الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفیق راکړي-

اٰمِیْن بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## صِدِّیقِ اکبر او د ایمان په تقاضو باندې عمل

زمونږه پیشوا، د مسلمانانو وړومبي خلیفه حضرت صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ به د ایمان په شعبو، د ایمان په تقاضو باندې څنګه عمل کولو- راځئ واورئ! د حضرت ابو اُمامه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روایت دے، یوه ورځ رسولِ اکرم، شاهِ بني آدم صحابهٔ کرامو علیهمُ الرِّضوان ته اوفرمائیل: نن چا روژه نیولې ده؟ ټول صحابه کرام علیهمُ الرِّضوان خاموشه پاتې شول حضرت ابو بکر صِدِّیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ عرض اوکړو: یا رسول الله! ما نیولې ده- سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بیا پوښتنه اوکړه: نن چا د مریض تپوس کړے دے؟ ټول صحابهٔ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خاموشه پاتې شول، حضرت ابو بکر صِدِّیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ بیا په آؤ کښې جواب ورکړلو، سرکار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دریم ځل پوښتنه اوکړه: نن د الله پاک په لاره کښې صدقه چا ورکړې ده؟ په دې باندې هم حضرت ابو بکر صِدِّیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ اووئیل: یا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ما کړې ده-

دا ئې چې واوریدل نو حُضُور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مُسکے شو او بیا ئې اوفرمائیل: په هغه پاک ذات مې دې قسم وي د چا په قبضهٔ قدرت کښې چې زما ځان دے! په یوه ورځ کښې دا عملونه (ډیر کامِل ایمان والا) مؤمن جمع کړل او هغه د دې عملونو په ذریعه جنّت ته

داخِل شو-[1]

سُبۡحٰنَ الله! الله پاک دې زمونږه هم داسې جذبه نصيب کړي-

اٰمِيۡن بِجَاهِ النَّبِيِّ الۡاَمِيۡن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

| | |
|---|---|
| عمل کا ہو جذبہ عطا یا الٰہی! | گُناہوں سے مجھ کو بچا یا الٰہی! |
| میں پانچوں نمازیں پڑھوں باجماعت | ہو توفیق ایسی عطا یا الٰہی![2] |

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: هفته واره مدني مذاکره

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د صحابۂ کرامو او اَهلِ بيتو او اوليائے کرامو د فيضان موندلو، د ګناهونو د پريښودلو، د نيک لمونځ ګزاره جوړيدلو او د ايمان د حفاظت او د مضبوطۍ فِکر موندلو د پاره د دعوتِ اسلامي د ديني ماحول لمن اونيسئ! په 12 ديني کارونو کښې هم ښه په شوق سره برخه اخلئ! اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡكَرِيۡم! د دنيا او د آخِرت بے شميره خير به مو نصيب شي- د ذيلي حلقې په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار **هفته واره مدني مذاکره** هم ده-

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ! شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د هر خالي په ورځ د شپې د ماسخوتن د لمانځه نه پس په مدني چينل باندې نيغ په نيغه (***Live***) **مدني مذاکره** کوي، په کومه کښې چې بے شميره

---

[1]... معجم کبير، جلد:4، صفحه:317، حديث:7732-
[2]...وسائلِ بخشش، صفحه:102-

عاشقانِ رسول عالمي مدني مرکز فیضانِ مدینه (کراچۍ) ته حاضرېږي او د عِلمِ دین برکتونه حاصلوي- په زرګونو عاشقانِ رسول په خپلو ښارونو/علاقو کښې په **اجتماعي طور د مدني مذاکرې** کتلو اهتمام کوي او د **مدني چینل، سوشل میډیا** (مثلاً یوټیوب، فیس بُک وغیره) په ذریعه خو پته نه لګي چې د دُنیا په کوم کوم ځائے کښې مدني مذاکره کتلے کیږي-

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د رجب المُرجَّب د برکت والا میاشت تشریف راوړونکې ده اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ! د وړومبي رجب المُرجَّب نه تر د 6 رجب المُرجَّب پورې به حضرت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د ماسخوتن د لمانځه نه پس په مدني چینل نیغ په نیغه (***Live***) مدني مذاکره کوي ټول عاشقانِ رسُول دې په مدني مذاکرو کښې خپل شرکت یقیني کړي اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د عِلمِ دین ډېر برکتونه به حاصل شي- راځئ! یو مدني سپرلے اورو:

## د عِلم او حکمت نه ډکه مدني مذاکره

د پنجاب، پاکستان واه کینټ (پنډۍ ضلعې) د یو ځلمي بیان دے: لمونځونه قضا کول، فلمونه کتل، شیطان خوشحالول او سندرې باجې وغیره اوریدو سره مست اوسیدل زما معمول وو، آه! زه په سُنَّتو باندې د عمل کولو نه محرومه ووم، زما د ګناهونو نه په ډک ژوند کښې رنړا داسې راغلله چې یوه ورځ د دعوتِ اسلامي یو مبلغ سره زما ملاقات اوشو، هغه زه پوهه کړم او زما ئې د اجتماعي سُنَّت اعتکاف ذِهن جوړ کړو، د هغه په ښکلي انداز کښې راکړے شوے د نیکۍ دعوت زما په زړه باندې ډېر زیات اثر اوکړو او زه په اجتماعي اعتکاف کښې شریک شوم، اوس زما ورځې شپې په عبادت کښې

تیریدلې، ښکلو بیانونو او د ژړا نه ډَکو دُعاګانو زما د زړه دنیا بدله کړله، په کرم باندې نور کرم دا چې په اجتماعي اعتکاف کښې د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ نه د مدني مذاکرې اوریدو سعادت میلاؤ شو، د هغوئي د اثر نه ډکو ملفوظاتو نه زه دومره متاثره شوم چې ما فوراً د خپلو تیرو ګناهونو نه توبه کړله او د لمونځونو د پابندئ اراده مې اوکړه، د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ په ترغیب راکولو باندې زه د اختر په شپه کورته د تللو په ځائے د الله پاک د لارې مسافر جوړ شوم چرته چې د عِلمِ دین د ملغلرو نه د لمن ډَکولو موقع میلاؤ شوه او د سُنَّتو زده کولو سره سره په دې باندې د عمل کولو جذبه هم په زړه کښې په موجونو شوه۔

مدنی مذاکرہ ہے شریعت کا خزینہ | اَخلاق کا، تہذیب کا، طریقت کا خزینہ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## مدني قاعِده (Madani Qaida) موبائل ایپلي کیشن

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د قرآنِ کریم فیضان عام کولو د پاره د دعوتِ اسلامي ***I.T*** ډیپارټمنټ یو موبائل ایپلي کیشن هم جاري کړے دے، د کوم نوم چې مدني قاعِده ***(Madani Qaida)*** دے۔ په دې ایپلي کیشن کښې مکمله مدني قاعِده او د دې آډیو ***(Audio)*** شامله کړے شوې ده یعني په دې ایپلي کیشن کښې چې تاسو د مدني قاعِدې په کوم حرف یا کوم لفظ باندې کلک ***(Click)*** کوئ، په آډیو ***(Audio)*** کښې به د هغې تَلَفُّظ چلیږي، داسې د دې ایپلي کیشن په مرستې سره په آسانئ سره مدني قاعِده لوستل، د دې مشق ***(Practice)*** کول او صحیح مخارج او ضروري تجوید زده کیدے شي۔ دا

ايپلي كيشن په خپل سمارټ فون كښې انسټال كړئ، پخپله ترې هم فائده واخلئ او نورو ته هم د دې ترغيب وركړئ۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** بيان د ختمولو په لور بوځم او د سُنّت د فضيلت او د ژوند د ځينو آدابو بيانولو سَعَادت حاصلووم۔ د رِسالت تاجدار، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّت سره محبت اوكړو هغوئي زما سره محبت اوكړو او چا چې زما سره محبت اوكړو هغوئي به په جنّت كښې زما سره وي۔ [1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

## د مسواك كولو سُنَّت او آداب

**د رسول الله** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **2 فرامين: (1):** دوه ركعته (لمونځ) د مسواك سره ادا كول بغير د مسواك نه د 70 ركعتونو نه افضل دي۔[2] **(2):** د مسواك استعمال د ځان د پاره لازمي كړئ ځكه چې دا د خُلې د صفائيئ او د الله پاك د رضا وجه ده۔[3]

**اے عاشقانِ رَسُول!** ❁ حُضور نبي پاك صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هره شپه مسواك كولو، هر ځل د اوده كيدلو په وخت هم او د بيداريدلو په وخت هم ❁ بغير د ښه نيت نه د مسواك كولو سره خو به طِبي فائدې خو حاصلې شي خو ثواب به نه ميلاويږي، مثلاً كه د

---

1 ...تاریخ دمشق، جلد:9، صفحہ:343۔
2 ...اَلتَّرغِیب وَالتَّرہِیب، کتاب:الطہارة، الترغیب فی السواک، صفحہ:86، حدیث:18۔
3 ...مسند امام احمد، جلد:2، صفحہ:438، حدیث:5869۔

اوداسه د پاره مسواک کول وي نو دا درې نیتونه اوکړئ: د الله پاک د رضا، د سُنَّت ادا کولو او د ذِکر او درود د پاره د خُلې پاکولو په غرض مسواک کووم ❁ مشائخِ کرام فرمائي: کوم کَس چې د مسواک عادت لري په ځنکدن کښې به ورته کلمه وئیل نصیب کیږي ❁ د حضرت عبد الله ابن عباس رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روایت دے چې په مسواک کښې 10 خوبیانې دي: خُله صفا کوي، اوریځ مضبوطوي، نظر تیزوي، بلغم لرې کوي، د خُلې سخا بوئي ختموي، د سُنَّت موافق دے، د مسواک کولو سره فرښتې خوشحالیږي، د مسواک کولو سره رَبّ رضا کیږي، مسواک نیکئ زیاتوي او معده صحیح کوي ❁ مسواک په ښي لاس کښې داسې واخلئ چې قچئ ګوته د دې نه لاندې او د مینځ درې ګوتې بره او غټه ګوته په سر وي ❁ مسواک چې کله د استعمال قابل نه وي نو غورځوئ ئې مه چې دا د سُنَّت ادا کولو آله ده، په احتیاط سره ئې په یو ځائے کښې کیږدئ یا ئې ښخ کړئ یا ئې د کانړي وغیره وزن سره اوتړئ او سمندر (یا سیند وغیره) کښې ئې ډوب کړئ۔ [1]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدینه د **بهارِ شریعت** جلد: 3 نه 16 حصې او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 مخونو رساله **550 سنت او آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنت زده کولو یوه ذریعه د دعوتِ اسلامي قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

سنتیں سیکھنے تین دِن کے لئے
ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو
رب کے در پر جُھکیں، اِلتجائیں کریں
بابِ رحمت کھلیں، قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ له د عمل کولو توفیق راعطا کړي۔

اٰمِیْن بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

---

[1]... 550 سنتیں اور آداب، صفحہ: 47-50۔

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

### ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [یعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانِ دینو فرمائیلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (یعني د جُمُعے او زیارت مینځنئ شپه باندے) دا دُرُود شریف پابندئ سره کم ازکم یو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دِیدار کوي او قَبْر کښې د داخلیدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدینه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي. (1) راځئ چې مونږه هم په شریکه دا دُرُود اووائیو.

### ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سیِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روایت دے چې تاجدارِمدینه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښیناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودریدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. (2) راځئ چې مونږه هم په شریكه دا دُرُود اووائیو.

---

1...اَفْضَلُ الصَّلاۃ، صفحہ:151، خلاصۃً۔
2...اَفْضَلُ الصَّلاۃ، صفحہ:65۔

## ﴿3﴾ د رَحمت اویا (70) دروازې:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ (6) لاکه دُرُودشریف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ
صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو (6) لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَۀ کرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

---

1...قَوْلُ البَدِيع، باب ثانی، صفحہ:277۔
2...اَفْضَلُ الصلاۃ، صفحہ:149۔
3...قَوْلُ البَدِيع، باب اَوَّل، صفحہ:125۔

## ﴾6﴿ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْہُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَۃِ

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي. (1) راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴾1﴿ د يو زر ورځو نيکۍ:

جَزَی اللّٰہُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا ھُوَ اَھْلُہٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْھُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکۍ ليکي. (2) راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴾2﴿ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ الْحَلِیْمُ الْکَرِیْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰہِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِیْم

(د حِلم او کرم کوونکي الله پاک نه علاوه هيڅوک د عبادت لائق نشته، الله پاک دے، د اووه آسمانونو او د عظمت والا عرش رَبّ)

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو. (3) راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

1...الترغيب والترهيب، كِتَابُ الذِّكْر والدُّعَا، جلد:2، صفحه:329، حديث:30-

2...مَجْمَعُ الزَّوائِد، كِتَابُ الْاَدْعِيَه، جلد:10، صفحه:254، حديث:17305-

3...تاريخ اِبْنِ عَسَاكِر، جلد:19، صفحه:155، حديث:4415-